صالح محمد ۲۰۱۷/۰۲/۲۳

زما په هیواد کې د کړکیچونو لاملونه

که څه هم کړکیچ په یوه هیواد کې ډیر زیات لاملونه لري او په ټولو اړخونو باندې غږیدل، کیدای سي د یوه سړي کار نوي. خو دا چې ولې دلته دا کړکیچ ورځ تر بلې زیاتیږي او د رڼا څرک هم نه ترسترګو کیږي. کله چې تلویزیون او رادیوګانو کې د چارواکو خبرې واورې نو ته به وایې چې سبا به دنیا ګل او ګلزار وي، هر څه به منظم شي، خو کلونه تیر سول اما زه هماغه خوار او درپه دره چې وم او نن هم هغه یم او لا مې ژوند خراب سوی، نو دا ولې؟
رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي (**الصدق ینجی والکذب یهلک**)، صداقت یواځینی لاره د نجات ده او برعکس درواغ د هلاکت او بربادیو لوی سبب دی. صداقت وه چې د اسلام سپیڅلی دین یې په ډیر لنډ وخت کې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسول او خلک یې د جهالت د تورو تیارو نه د فلاح او بهبود او د توحید پاکې نړۍ ته ورسوق کړ.
هغه ملتونه چې د تبعیض په تورو تیارو کې کړیدل، هغه ملتونه چې حتی د تعلیم حق ترې سلب وه، هغه ملتونه چې حتی خپل په نامه مکتب ته نشوای شاملیدلای او مجبور وه چې داسي یو نوم ولري چې انګلیسان یا امریکایان یې لري، هغه ملتونه چې په روغتون کې یې اجازه نه درلودله چې بستر سي، هغه ملتونه چې حتی نشوای کولای په بس کې چوکۍ باندې کښیني خو صادق رهبران هغوی یې د ***ولسمشری پر چوکۍ کښیول***.

ډاکټرمارتین لوترکینګ (Martin Luther King) چې د تورپوستو یو صادق مشر و، خپله تاریخي وینا کې ټول هغه څه یې وویل چې نن موږ او تاسو د هغو خبرو عملی بڼه په خپلو سترګو وینو. دی په تکراري توګه وایي چې (**I have a dream today...**)، هو، هغه څه چې ده ویل هغه وشول. دی ریښتینی و او د ده وینا ریښتیني وه، د ده اوښکې د صادقو سترګو نه او د صادق زړه او وجدان نه سرچینه اخیستله، د ده وینا ټوله د ده د پاک وجدان نه د خلکو او پرګنو معنوي غوږ ته رسیدله او هغو ته معنوي قوت وربښل. دوي په خپلو خبرو، عمل او ټولو چارو کې ساده او بسیط او ریښتیني خلک ول، دوی ساتونکي ځان پسې نه ګرځول ولې چې خپل ملت یې د دوی ساتونکي وو، د دوی صداقت او ریښتینوالی د دوي ساتونکی وه او په پای کې ځان یې تر ملت جار کړ او نن، زه افغان د ده ستر شخصیت او صداقت ته احترام قایل یم او دی باید احترام سي ولې چې دی د پاک وجدان خاوند وه.
نیلسن مانديلا(*Nelson Rolihlahla Mandela*)، هغه بل اتل دی چې د خپل ملت د نجات په خاطر کلونه کلونه زندان کې پاته سو خو زندان کې هم کرار ناست نه و او همالته هم خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جنوبي افریقي ملت نن کولای سي چې د نړۍ هر ګوټ ته سفر وکړي، هر هیواد کې یې چې زړه وي زدکړه او کار وکړي، هیواد او ملت یې آرام دی. هو، د ده صداقت هغه ملت ته روح وبښل، ښایست یې وبښل، فلاح او سرلوړی یې وبښل. نن تورپوستی کولای سي د نړۍ په معیاري پوهنتونونو کې زدکړې وکړي.
دلته یو تورپوستی وه او موږ سره یو ځای کار کاوه، یوه ورځ یې ماته وویل چې افغانان په ربښتیا خپلواکۍ باندې مین خلک دي او حتی ماشومان یې هم خپلواکي خوښوي او زیاته یې کړه چې، یوه ورځ زه یو مکتب ته د یوې پروژې د عملي کولو په هدف تللی وم، وایي یو کوچني هلک ماته وویل چې ته د نیلسن مانديلا قریب یې، وایي زه دومره خوشحال سوم چې دا دومره کوچنی هلک او نیلسن مانديلا سره ډیر لیرې دي، خو دا چې نیلسن مانديلا په **خپلواکي مین سړی وه نو همدا علت دی چې په دې افغان ماشوم باندې هغه ګران وه.** هو، د مانديلا صداقت دی چې هغه یې حتی زما ماشوم ته رانږدې کړی وه.

خان عبدالغفار خان، زما اتل او زما ستر مبارز:



خان عبدالغفار خان هم د ښکیلاک په وړاندې ستره مبارزه وکړه او ده هم غوښتل چې افغان ملت و اوچتو مادي او معنوي درجو ته ورسوي خو هغه څه چې ده غوښتل هغه ونسو. ده سره خپل خلک تر مرګه ولاړ ول ولې چې ده کې صداقت او ریښتینوالی لیدل او بالاخره د انګریزي ښکیلاک ځنځیرونه یې مات کړ. ستر خان عبدالغفار خان عمل کې یې خپل ملت ته دا وربښوول چې دی د ملت سره دی، ملت په ده ګران دی او دی د ملت آرامي او هوسایي غواړي. د ده خواړه او جامه د ټولنې د ډیرو بیوزلو خلکو خواړه او جامه وه.
زما د خان عمل او حرف یو وه، ده په عمل کې له خپل ملت سره وه، دی په حقیقي توګه د خپل ملت خلاصون یې غوښت او په خپله هم په ډګر کې د ښکیلاک پر وړاندې ولاړ سوی او د خپل ملت سره اوږه په اوږه ښکیلاکګر یې ځپلی او په ګوندو کړی.
زما خان څخه شتمنۍ نده پاتې سوې، یواځینۍ شتمنۍ چې د ده نه پاتې سوې او تر ما رسیدلې ده، هغه ***معنویت*** ده چې ټول پښتانه وربانديې ویاړي.
اما:
دا ننني کړکیچ ولې ورځ تر بلې اوږدیږي او ولې دا تر دیرشو کلونو نه واوښت چې د دې ملت وینه بهیږي خو د سولې او بهبود څرک نه تر سترګو کیږي؟
دلته په ډېر تاسف باید وویل سي چې، ټول هغه ګوندونه چې ځانونه مارکسیستان بلل او یا هغه ګوندونه چې ځانونه اخوان المسلمین پسې تړل، دوی ټول درواغجن خلک ول، د دوی عقیده، نیت، عمل او وینا ټوله د درواغو پر بنسټونو باندې ولاړ وه. دوی د ملت د پاکو احساساتو نه کار واخیست، میلیونونه انسانان د همدغو درواغجنو له لاسه ووژل سول، معلول سول، ورټل سول، یتیمان سول او خپل کور او کلي یې له لاسه ورکړل او بالاخره په ټوله نړۍ کې خپاره سول او بې وطنه سول.
لکه څنګه چې خلقیان او پرچمیان خپل ځانونه د کې جي بي غیږې ته ورواچول او خپله اراده یې د شوروي کمونیست ګوند او کمونیست مشرتابه د ارادې تر سیورې لاندې راوستله او خپلواکۍ یې له لاسه ورکړه چې بالاخره خپل ځان، ملت او هیواد او د هیواد سیاسي خپلواکۍ یې د تباهۍ کندې ته وغورځول، کټ مټ د مجاهدینو مشرتابه یا په شعوري او یا غیر شعوري خپل ځانونه د سي آی ای او آی اس آی ادارو ته ورتسلیم کړل، خپلواکۍ یې له لاسه ورکړه او د دوی ټوله اراده د منطقې د استخباراتو لخوا شنډه سوله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې سړی د همدغو ګوندونو د مشرانو تر منځ اختلافاتو ته متوجه سي، نو له ورایه دا څرګندیږي چې دوی اصلاً دا اراده نلري چې هغه څه په عمل کې تطبیق کړي چې شعار ورکوي، د ترکي او امین ترمنځ هغه ژور اختلافات چې بالاخره ترکي د خپل وفادار شاګرد لخوا وژل کیږي او د خپل استاد پر پلان سبقت کوي. د امین هغه کړني چې د هیواد تاریخ پرې شرمیږي، ملت یې راوپارول او حتی هغه جنون ته ورسید چې خپلو بادارانو ته دی نور د منلو وړ نه وه.
که سړی تاریخ وسپړي او هغه استخباراتي سپړل سوي معلومات ولولي، داسې څرکندوني سته چې پخوانی شوري، افغانستان ته د **حملې کوم مخکنی پلان نه درلود**، خو کله چې ترکی د امین لخوا وژل کیږي او هغه کسانو باندې چې امین شکمن دی، هغوی له دندې ګوښه کوي او ځینې لکه ګلابزوی، سروري، اسلم وطنجار او شیرجان مزدوریار خو لا له پخوا د یو تن د کې جې بې د مامور په کور کې پټ ول او پخواني شوروي مشرتابه ته د امین او امریکې د اړیکو په هکله مالومات داسې ورکول چې امین د امریکې سره ورځ تر بلې نږدې کیږي او شوروي مشرتابه واردمخه باید اقدام وکړي او امین له منځه یوسي.
شوروي مشرتابه سره هم همدا اندیښنه وه چې کیدای سي امین امریکې ته د استخباراتي بریښنایي سیستم د نصبولو اجازه ورکړي چې وروسته به امریکا وکولای سي د شوروي ټول راډیویي او رادار سیستمونه وځاري او حتی د دفاعي خلایي نظام د څپو جاسوسي وکړي، دا چې دا اندیښنه څومره سمه وه او که نه خو د افغانانو ذات البیني اختلافات همدا ټولو اندیښنو ته شدت ورکړ چې بالاخره شورویان پر هیواد یرغل وکړ سره له دې چې د ننه په مشرتابه کې هلته هم داسې کسان ول چې نه غوښتل افغانستان باندې پوځي یرغل وسي ولې هلته هم ځیني بادرکه سیاست مداران وه او په دې پوهیدل چې یرغل په خپل ذات یو دام دی د امریکې لخوا چې د ویتنام غچ واخلي لکه مارشال اورګاکوف، مارشال اخرومیوف، جنرال ویلانتین ویربنکوف **"د سی آی اې پټې جګړې"**، امین یې وواژه او کارمل یې لکه شاه شجاع پر تخت کیناوه خو بې واک او بې صلاحیت او زبون.
د شوروي د یرغل سره هر څه بدل سو، خلقیان چې له اوله سره هم د ملت او هیواد غم نه درلود، بلکه دوی له اولې ورځې نه مزدور صفته خلک ول خو د یرغل وروسته واک او صلاحیت هم د دوی له لاسه ووتل او دوی فقط د شورویانو په ډول ګډیدل چې دا پخپله د ملت نفرت یې دومره راوپارول چې ملت و دې ته اړایستل شو چې خپل کور او کلی پریږدي او د هیواد د خلاصون په خاطر خپل سر نه تیر سي چې هماغسې هم وسول.
د شورویانو یرغل د افغان ملت نه هر څه ولوټل، آرامي، خپلواکي، کور او کلی، اولاد، ښځه، راتلونکی ژوند او بالاخره هر هغه څه چې د ژوند مادي او معنوي ښکلا جوړوي هغه ټول یې داسې ولوټل او هیواد او ملت یې د دنیا هغو خطرناکو استخباراتو خولې ته واچول چې نن هم دا ملت د هماغو استخباراتو لخوا کړیږي، وژل کیږي او رټل کیږي. تر ننه زما ملت آرام نسو، نه په خپل هیواد کې آرام سو او نه بل چېرته.
د شورویانو یرغل د امریکې د پاره یو ستر زیری وه تر څو د افغان ملت د وینې په بدل د ویتنام د ماتې غچ واخلي . پاکستان چې د جوړیدو له پیله د دې خاورې سره دښمني لرله، اوس یو ډیر ښه چانس په لاس ورغی، آی اس آی د افغانستان د مجاهدینو رهبري په خپل لاس کې واخیستله، هر څه باید د همدغې ادارې لخوا ترسره شوي وای حتی د جګړې پلان، څنګه باید یرغل وسي، کوم ځای باید له منځه یوړل سي، کوم تنظیم ښه ونازول سي او کوم تنظیم باید له پامه وغورځول سي او څه ډول دوی همداسې متشتت او ګډوډ او بې اراده او بې اداره وساتل سي.
هغه افغانان چې هڅه کوله چې دا ګوندونه او جهادي تنظیمونه تر یو چتر لاندې راوستل سي او د یوې منظمې قوماندې لاندې سي او دا جګړه د یرغلګرو په وړاندې د یو منظم مرکز نه رهبري سي، خو آی اس آی تل د داسې یو حرکت سره مخالفت ښودلی، او حتی په مرګ تهدید سوي، او حتی جنرال صاحب کټوازي په شان ترور سوي دي، ولې چې منظم جهاد د آی اس آی په ګټه نوه.
نه یواځې دا چې مجاهدین یو له بل سره نږدې نسول بلکه د دوی تر منځ اختلافات ورځ تر بلې زیاتیدل او حتی د دوی ګروپونه د هیواد په د ننه په کلیو کې نیمه ورځ که له دولت سره جنګیدل خو نیمه ورځ بیا په خپل منځ کې جنګیدل او په زرګونو کسان د مجاهدینو مشران په خپل منځي جګړو کې له منځه تللي.
د (The secret wars of CIA) نومې کتاب کې د مجاهدینو د یو موټي کیدو په هکله داسې لیکل سوی چې:
په ۱۹۸۰کال کې د افغان مجاهدینو د ټولو ډلو د انسجام هڅې پیل سوې، د جنوري او فبروري په میاشتو کې د کابل د ستري محکمې د یوه پخواني قاضي محمد عمر ببرکزي په مشرۍ د پښتنو قومي مشرانو یو شمیر غونډې جوړې شوې، د مې د میاشتې پر ۱۱مه یې پیښور ته نږدې یوه پوځي شورى راوبلله، چې په هغو کې د افغانستان د هر ګوټ څخه د پښتنو او غیر پښتنو قومونو ۹۱۶ تنه برخه اخیستې وه. تر دې دمه پاکستانیانو او بالخصوص آی اس آی او د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مجاهدینو اوه ګونې اتحاد د واحد جهادي غورځنګ جوړولو ته لیوالتیا نه درلوده، دغې پوځي شورا چې د افغانستان د ټولو قومونو استازي پکې شامل وه، دا غوښتنه وکړه چې یو سیاسي او د قوماندې مرکز جوړ سي، وروسته به د جلاوطن حکومت جوړیدو ته زمینه برابره سي، د خطر زنګ ووهل سو، پوځي شورا یو سل کسیز قومي کمیسیون جوړ کړ، چې ۵۱ غړي یې د ولایاتو د ننه استازیو او ۴۹ یې په پاکستان کې د ننه مشرانو څخه وټاکل چې د اوه ګونې اتحاد له غړیو څخه به غوره کیدل، دوی غوښتنه وکړه چې د جګړې قوماندانان به تر دې وروسته د قومي مشرانو لخوا غوره کیږي، دوی دا غوښتنه هم وکړه چې د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته به افغانستان یو مرکزي نظام لري،چې قبایلي سیمه به پکې خودمختاره وي، دې جرګې توندلارې نظریات رد کړل او د یوه اسلامي نظام غوښتنه یې وکړه چې فکري او عقیدوي اختلافونه پکې نوي او بهرنی سیاست یې بې طرفی ساتل وي.

دا کار پاکستان ته سخته اندیښنه پیدا کړه، دوی دغه جرګه اوه ګونې اتحاد ته لوی ګواښ وباله، پاکستان غوښتل چې د اوه ګونې اتحاد په واسطه جهادي غورځنګ تیت او پرک وي او په دې ډول د پښتونستان مساله پر سیاسي اجنډا را مطرح نسي، ځکه خو آی اس آی ته دا دنده وسپارل سوه چې په دې جرګه کې اختلافونه پیدا کړي تر څو جرګه له منځه لاړه سي، همدا وه چې دوی دري معتدلو ګروپونو ته د وسلو او وسلو د نه ورکولو ګواښ وکړ، چې پر همدغه ګواښ هغوی دریواړه له جرګې ووتل. د ۱۹۸۰ په پای کې دا جرګه نوره ختمه سوې وه او نتیجه یې دا سوه چې جهادي غورځنګ د جګړې په ټول دوران کې کومه مناسبه تګلاره عملي نکړای سوه او نه یې هم د کابل حکومت په وړاندې کوم مناسب او اغیزمن سیاسي بدیل وړاندې کړ.

نو له ټولو بحثونو نه وروسته، دا له ورا ښکاري چې د جهادي ګوندونو مشران د هیواد د خپلواکي د پاره نه بلکه د خپلو شخصي ګټو په خاطر، قدرت ته د رسیدو په خاطر او د پیسو د ترلاسه کولو په خاطر او همداسې د آی اس آی او سي آی اې د خوشحالولو په خاطر، په خپل منځ کې اختلافات درلودل او د اختلافاتو نتیجه بالاخره دا وه چې دوی باید د سي آی اې او په مستقیمه توګه د آی اس آی تر قوماندې لاندې کار وکړي چې هماغسې هم وکړل. کله چې د شوروي او کې جې بې د اداري لخوا جوړه سوې اداره او حکومت ړنګ سو، مجاهدین د راتګ سره سم ټوله دفاعي شتمنۍ له مینځه یوړه او همداسې ټول هغه څه چې یو هیواد کولای سي د هغې شتمنۍ په واسطه ځان وساتي او د ځمکنۍ بشپړتیا نه دفاع وکړي، هغه ټول یې د اوسپنې په وزن پر پاکستان وپلورل او جوړه او روغه ملي اردو یې هم په کلي توګه له مینځه یوړه چې دا د آی اس آی هغه آخري غوښتنه وه چې جناب مجاهدین هغه ته یې هم لبیک وویل.

نن هم همدا بې نظمي او دا ګډ حکومت د سي آی اې د کړنو یوه نمونه ده، د زورواکو ساتل، هغوی ته په ټولو امورو کې واک ورکول او د هغوی نه مهار کول، دا ټوله د سي آی اې او د منطقې د استخباراتو کړنې دي. د کاذبو بې شخصیتو او بې وجدان او بیسوادو او ناپوهو کسانو نه شخصیت جوړول، د منطقې د استخباراتو د نوښتونو یوه بله بیلګه ده تر څو جګړه همدلته دوامداره وساتي او حتی د نورو ډلو رامنځ ته کول لکه داعش، دا هغه دامونه دي د استعماري پرمختګ په خاطر.

د محلي پولیسو رامنځ ته کول، او دوی په یوه محدوده کې ساتل په خپله حتی په کلیو او باندو کې د دښمنیو او بدیو د رامنځ ته کیدو یو ښه فورمول وه چې ښکیلاکګر لخوا عملي سو. که چېرته یوه داسې سروې وسي چې څومره هیوادوال د همدغو داخلي جګړو نه چې د طالب او محلي پولیسو (اربکیو) لخوا ترسره سوي، وژل سوي او څومره کسان خپل کور او کلي پریښودو ته اړ سوي نو کیدای سي چې تعداد یې په ټول هیواد کې بوږنوونکی وي خو دا لړۍ دوام لري.

دا چې څه وخت یو نوښتګر دلته دې خاوره کې پیدا سي چې وکولای سي د دې استخباراتي کړیو نه دا ملت وژغوري، دا یواځې رب ته مالومه ده او بس خو دلته چې هیواد کې شا او خوا ته وګورې، داسې په نږدو کې د حل لاره نه ترسترګو کیږي.

پای

د جلال آباد ښار

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ